# افـغــان شهــــــــزاده

# او زه

## " په افغانستان کې لومړنی امـریکایي "



شهزاده اکبرخان ( ۱۸۱۶-۱۸۴۶)

## تأريخي نــاول

ليکوال : پـوهانـد بشير احمد زکـريـا

د کولمبيا د پوهنتون دايمي پروفيسر

ژباړه : رحمت آريـا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

# دویم څپرکی

کله چې د اندس د لښکر له لیکو څخه ووتلم خپل سفر ته مې د شمال پر لور، لاهور ته د رسېدلو په موخې دوام ورکړ. د لارې په اوږدو کې له څو وړوکو پېښو سره مخامخ شوم لکه د سیمه ییزو مشرانو شخړې او نورې وَړې جګړې. همدا شان دوه تنه تښتېدلي پېرنګیان هم زما له کاروان سره یو ځای شول. زما د اړتیا وړ توکي پر شپږو اوښانو باندې بار ول، له ځان سره مې پرېکړه وکړه چې له همدغو توکو او اوښانو سره به یو ځای د احمد پور له ښاره چټک وځم. دولس تنه سپاهیان، د پېرنګي لښکر یو تن تښتېدلی چې جان برَون[۱] نومېدهٔ او هم درې تنه افغانان مې چې په رواني پښتو او دَرې ژبو خبرې کولې په ځیر غوره کړل. دا مې خپله نېکمرغي ګڼله چې اوس مې د فلورا[۲] په نامهٔ خپل آس یو ځل بیا ګوتو ته راغلی وو، د چارلس میسن[۳] په نامهٔ یو بل تن پېرنګی چې هغه هم زموږ له کمپه یوه اونۍ مخکې تښتېدلی وو دا آس راته راووړ. له ډېرې لالهاندۍ، د ستونزو له ګاللو، غلطې انګېرنې او د بومي وګړو له تېل ماتېل او خنډ و ځنډ وروسته په پای کې لاهور ته چې د سیکهانو د سترواکۍ پلازمېنه وه ورسېدم. پوهېدم چې رنجیت سینګهـ یو بریالی او پیاوړی سړی دی، داسې سړی چې د نېستۍ او بې وزلۍ د دوړو او خاورو له منځه راپورته شوی او ځان ئې د سلطنت تر ګدۍ پورې رسولی دی، نوموړی اووه لس کلن وو چې د سیکهانو جنګیالي قومونه ئې د یوهٔ یو موټي ملت د بیرغ تر سیوري لاندې سره راټول کړل او په یو ویشت کلنۍ کې د پنجاب په یوهٔ بې ساري ټولمنلي سلطان بدل شوی وو.

مهاراج رنجیت سینګهـ د سیمې د یوهٔ هوښیار لارښود په توګې ښـهٔ پوهېدهٔ چې د یوهٔ پیاوړي او رزول شوي لښکر له لرلو پرته نه شي کولی د برتانیا درناوی تر لاسه کړي، دې ښـهٔ پوهېدهٔ چې د ډیپلوماسۍ په ډګر کې، د زور او د ښکیلاک او نیواک د لوړو ژورو په موړونو کې ورته د پایښت چانس له اره نشته دی. همدا ول چې مهاراج په ۱۸۲۲ز کال کې درې تنه اروپایي پوځیان وګومارل : د جین فرانسوا[۴] په نامهٔ یو فرانسوی نیمه اشراف، د بېپتِسټ وینټورا[۵] په نامهٔ یو ایټالوی او د «اومز[۶]» په نامهٔ یو هسپانوی او د پاولو ډي اَویټبل[۷] په نامهٔ یو وحشي لیونی سړی چې پر افغانستان باندې د پېرنګي لښکر له تېرې وروسته د اندس له لښکر سره یو ځای شوی وو. له ځان سره مې فکر وکړ چې د رنجیت سینګهـ دربار ته د یو چا له لارې باید لاره ومومم. دلته مې پام شو چې جنرال الارډ د رنجیت سینګهـ په دربار کې د اروپائي جنرالانو سر مشري په غاړه لري. الارډ د فرانسې د «لژن دونور[۸]» مډال تر لاسه کړی وو چې په فرانسې کې تر ټولو لوړ مډال وو، الارډ د ناپلیون په جګړو کې د «اووم هُسَر[۹]» د کپتان په ډول ګومارل شوی وو او دوه ځله ټپي شوی وو. نوموړی د واترلو په جګړې کې له ماتې وروسته هندوستان ته راکډه شوی وو.

---

۱ - John Brown
۲ - Flaura
۳ - Charles Masson
۴ - Jean-François Allard : د کتاب پهٔ پای کې ئې شرحه کې وګورئ
۵ - Jean-Baptiste Ventura: د کتاب پهٔ پای کې ئې شرحه کې وګورئ
۶ - Oms
۷ - Paolo di Avitable : د کتاب پهٔ پای کې ئې شرحه کې وګورئ
۸ - Legion d'honneur: د کتاب پهٔ پای کې ئې شرحه کې وګورئ
۹ - Seventh Hussars: د کتاب پهٔ پای کې ئې شرحه کې وګورئ


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جنرال الارډ له پېښو خبر، په معلوماتو سمبال او د خورا لوړ فرهنګ څښتن وو چې له اروپايانو سره ئې په خپلې مېلمنه پالنې، زښت خوږ چلند کاوهٔ. جنرال الارډ په خپل کليوال کور کې ومنلم. دا کور کټ مټ د ورسای[۱۰] د کورونو په شان په ميناتورئ او ښکلو انځورونو پسولل شوی وو او د ختيځ بازار په منځتکي کې پروت وو. زما نيمګړې نيمکۍ فرانسوئ پر جنرال اغېزه وکړه. وريښميني جامې ئې يوې چپنې ته ورته وې چې سور روښانه رنګ ئې درلود او له غاړې نيولې د ښو تر ښنګرو پورې ئې رسېدلې. اوږدې دوه ښاخۍ ته ورته ږيره ئې تر ټټر پورې ځړېدله چې له ځلاندو سپينو واورينو ويښتانو سره ئې برابر انډول ځرګنداوهٔ. نوکرانو په هماغهٔ انګليسي دود موږ ته د ماسپښين چای له «کرمپټ[۱۱]» سره راووړ. د حارې د بې اعتدالې هوا په اړوند له لنډو خبرو وروسته مې له ښاغلي الارډه وغوښتل چې که وکولای شي ما د اعليحضرت سترواک رنجيت سينګهـ حضور ته ورسوي او له هغوی سره د ليدلو لاره چاره راته برابره کاندي. نوموړي د پاريس په ځانګړي پېچلي فرانسوي ګړدود په نالېوالتيا ځواب راکړ :" د شخصي کارونو د ډېروالي له کبله د اعليحضرت ليدل يوځهٔ ګران دي." بيا ئې د مړامې موسکا په ترخ کې خبرو ته دوام ورکړ :" ستاسو د معلوماتو لپاره بايد ووايم چې له کاره ببرته په شا کېدل هماغومره ګران دي لکه چې په يوهٔ ځل کاتو دې ځوک د سترګو په رپ کې لوړ دريځ او دنده تر لاسه کړي."

جنرال د خپلې طبيعي پېرزوينې او پاملرنې له مخې ما ته په خپلې پرتميني مانۍ کې د استوګنې لپاره ځای راکړ او د يوې ورځې له تېرېدلو وروسته ئې راته ووېل :" له سترواک سره مې ستا لپاره وخت اخيستی دی." مهاراج په تنکۍ ځوانۍ کې له پړانګ سره جګړه کړې وه چې له هَمغهٔ وخته وروسته ئې د «لاهور د زمري» لقب ګټلی وو. د اعليحضرت دربار ته زموږ ننوتنګ د شاهي دربار د جهر په اعلان سره بدرګه او ورپسې دربار ته ننوتلو. رنجيت سينګهـ په لوړ شاهي مکيز د سرو زرو پر څوکۍ باندې ناست وو، په ډېرې بې باکۍ ئې غځېدلې پښې يو پر بل باندې اړولې وې، سپين کميس او د تنګو پايڅو پرتوګ ئې په ځان کې ول، تر ملا ئې په سپنسيو کې پېيل شوې په ښکلې پسولنې لويې لويې مرغلرې ځړېدلې چې ځانګړې ښکلا ئې وربخښله. هغهٔ څهٔ چې تر ټولو ډېر ئې زما سترګې ځان ته لمسولې يوه ځلانده ګاڼه وه چې د سترواک پر ښي مټ باندې په بريښ ځلېدله. د کوه نور د الماس په تأريخي مخينې باندې په پوهېدلو مې له ځان سره ووېل :" د الماسونو مورې، د الماسونو الماسه، پوهېږم چې له کومه ځايه راغلی يې." د رنجيت سينګهـ په مانۍ کې د مېلمه پالنې ځای د ورېښمو په رنګينو پردو او په سرو مخملينو آرام څوکېو ښکلی شوی وو، آرام څوکېو د سرو زرو بازو ګان درلودل چې په زيړې سکښتې کېندل شوي ول. د ديوالهٔ پر مخ څو ډالونه او د سرو او سپينو زرو شلګرې ځوړندې وې. يو شمير چينايي او د آسيا د سويل ختيځ عاجونه چې په ځانګړې پسولنې تراښل شوي ول د مرمرين ميز پرمخ په درېدلې بڼې اېښودل شوي ول. د پارس، بخارا او کشمير په ښکلو ورېښمو اوبدل شويو غاليو زموږ پسې راسړولې. ځرګنده ده چې داسې يوهٔ شهنشاهي پرتم د رنجيت سينګهـ د دربار پر اروپايي مېلمنو باندې د هغهٔ د پانګې او ځواک اغېزه هرو مرو شيندله؛ زما په باور دا کټ مټ هماغه څهٔ ول چې رنجيت ئې هيله لرله. مهاراج په خپله يوه وړوکې جثه او تنه درلودله، يوه سترګه ئې ړنده وه او پرمخ ئې د شرې له ناروغې د پاتې ټپونو زيږې نښې له ورايه ځرګندې وې. د لارډ اکلند خور ايميلي آيډن[۱۲] يو وخت د

۱۰- Versailles: د کتاب پهٔ پای کې ئې شرحه کې وګورئ
۱۱- crumpets: د کتاب پهٔ پای کې ئې شرحه کې وګورئ
۱۲ - Emily Eden


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

رنجیت سینګهـ په اړوند په پریکندي بـېـرحمۍ  په حقه ویلي ول :" په یوې سترګی ړوند مهاراج، په خپلو خړو ویښتانو چي تر بارخوګانو پورې ئـي رسـېـږي کټ مټ د کندو یوه زاړهٔ کورني موږک ته ورته دی."
خو جرمن سیلانی بارون ون هیګل[١٣] ان تر ایمیلي آیدن، په خپلي سپیني او ترخي خبرې یو بل زیـږ انځور ورکوي.

سترواک د خپلي یوې سترګي له ګوتِه ماته مړهٔ مړهٔ کښه و پورته کتل او هڅه ئـي کوله ما په خپل ذهن کي وتـَـلي. خبره دا وه چي یوه میاشت مخکي مهاراج خپل یو اروپایي جنرال د کولرا د ناروغی له کبله له لاسه ورکړی وو؛ پرته له دې چي مهاراج له ما سره مخکینی پـېـژندګلوي ولري ماته ئـي وړاندیز وکړ چي د «سینور اومز[١٤]» د لیوا بشپړه بولنه «قومانده» په غاړه واخلم. مهاراجا ته مي په ځواب کي وویل :" زه یو طبیب یم، د دایمي دندې په لټي کي نـهٔ یم، او زما وروستنی موخه بـېـرته زما هـېـواد امریکي ته ستنـېـدل دي." ما ته هـېـښنده دا وه چي د مهاراج د وړاندیز په نټه کولو ولی راباندې ونــهٔ خښمـېـد. خو له دې لیدني کتني وروسته مي ځوځو ځله د سترواک په ماڼۍ کي د کار موندلو نـېـغي او غیر مستقیمي نغوتي ځرګندې کړلي. په لاهور کي د استوګني پر مهال زما طبي خدماتو ته اړتیا د هرې ورځي په تـېـرېدلو ډېـرېدلـه، په ځانګړي ډول د دربار د ندیمانو په منځ کي غوښتني ډېرې وې، خو ډېري وختونه به مي د مهاراج درملنه کوله او دا ناروغي دهٔ ته د هغو مضرو معجونو له کبله پـېـښـېـدله چي دهٔ به خپله جوړول. کرار کرار په خپلو طبي چارو کي ډوبـېـدلم، او د هرې ورځي په تـېـرېدلو د دربار د ندیمانو او له درباره دباندې د اشرافو په منځ کي زما خدماتو ته اړتیا پراخـېـدله. سره له دې چي جنرال الارډ ما ته یوه زړهٔ سواندی مـېـلمه پال وو خو د هرې ورځي په تـېـرېدلو مي احساس کاوهٔ چي نور هغه ته ددهٔ په کالـهٔ کي مـېـلمه نـهٔ بلکه په کوربه بدلـېـږم او د هغه له مـېـلمه پالني مي ناوړه ګټه پورته کوله. لنډه دا چي مهاراج په دې خوښ وو چي زه ئـي تر څنګ اوسم؛ ځکه نوموړي تر ډېرې کچي په لوېدیزو درملو باور درلود او په خپله به ئـي ویل چي لویدیز درمل په قبر کي مړی ژوندی کوي.

د لاهور د زمري په رنګین دربار او خوسا نړۍ کي تر یوې کچي ورک شوی وم. که رنجیت سینګهـ یو پیاوړی جنرال، متجربه دیپلومات، هوښیار او تیز ذهنه سړی وو خو د شخصیت یو بل کوږ اړخ ئـي هم درلود. رنجیت سینګهـ په فسق او عیاشۍ کي نوم درلود. د خپل اور په سړولو کي نـهٔ یوازي پی مخو ښځو ته لـېـوال وو بلکه ښایسته هلکان ئـي هم خوښـېـدل، په الکهولو روږدي وو، او په خپل لاس جوړ شوي الکهولي څښاک ئـي ډېـر خوښـېـدل، په پای کي همدغه څښاک وو چي دی ئـي وواژهٔ. د ځانګړو مـېـلمستیاوو په لړ کي به ئـي لوړ پوري مـېـلمانـهٔ تر خپلي اغـېـز لاندې راوستل او په لوی لاسوَلی او سخاوت کي د آسیا د هر پاچا په پرتلې په ځان غره وو.

د رنجیت سینګهـ په دربار کي د دنګو، ښکلو پـَـیمخو او د مرمرینو پنډیو تکنیو پیغلوټو یوه لویه ډله غوره شوې وه چي ټولي ئـي له فارس، کشمیر او د پنجاب له بـېـلابـېـلو ځایونو راوستل شوې وې؛ د وربـېـښمو په نازکو جامو کي ددوی د بدن ورجستو ځایونو هر ډول سولندې سترګي ځانته لمسولې، د شاهانه غونډو په ترڅ کي به دوی د سرتـېـرو په شان پر پسولل شویو عربي آسانو سپرې په ځانګړي ښځینه مکیز راغلي، په لاسونو کي به ئـي د سرو یا سپینو زرو په اوبو پسولل شوي ډالونه، غیشي او لیندی وې. کله به چي په آسانو سپرې نجوني د مـېـلمنو د کـیـرډیو ګردچاپـېـره په تراټ راغلي نو ستروواک به مـېـلمونو ته د

[١٣] - Baron von Hügel
[١٤] - Señor Oms


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

خپلې مړامې شیطاني او ترڅکوني موسکا په ترخ کې ویل :" دا مې د لښکر یوه وړوکې برخه ده چې تر اوسه د هغوی په تأدیب او دسپلین نـهٔ یم بریالی شوی، نـهٔ پوهـېږم چې څـهٔ ورسره وکړم."

د لاهور په دربار کې له څو میاشتو استوګنې وروسته د برتانوي هند لـېرې شمالي وروستۍ څنډې د لودهیانې ښار ته لاړم، په لودهیانې کې د افغانستان بې تاج و تخته راپرځول شوی پاچا، شجاع اوسېدهٔ چې د کپتان کلاوډ ویډ[15] تر څارونکو سترګو لاندې د برتانویانو جیره خور وو. له دې چې افغانستان ته د تللو ټینګه لېوالتیا مې درلودله نو شاه شجاع ته مې د هغه د تاج په بېرته راګرځولو کې وړاندیز وکړ. نوموړي د همدغـهٔ وړاندیز په بدل کې ما ته د " همدمِ رکاب همایوني!!!" لقب راکړ. د شاه شجاع ګردچاپیره کړۍ په غوړه مالو ندیمانو، شپېږ سوه ښځو او مینځو ډکه شوې وه. تل به ئـې راته د افغانستان د دنګو غرونو او ښکلو دَرو یادونه کوله؛ شاه شجاع تل له خپل لالهانده برخلیک سره لاس و ګریوان وو، خو په همدې لړ کې ئـې د خپل تاج د بېرته ترلاسه کولو په هیلـې شپې او ورځې په سرې سینې تېرولې.

د شاه شجاع په لیدلو چې میاشتې او کلونه ئـې په تلیوار شمیرل نور نهیلی سوم او بېرته د لاهور دربار ته راستون سوم. په پای کې د سترواک پېرزوینې راباندې ولورېدلې او د ګجرات د ګورنر په توګې ئـې په کار وګومارلم، او یو زرو دوه سوه روپۍ تنخواه ئـې راته وټاکله، خو ترڅنګ ئـې ګواښ وکړ چې که سم کار ونه کړم نو پزه به مې راپریک کړي. د نړۍ په دغو ځایونو کې د سرونو، غوږونو، پوزو او لاسونو پریک کول، او یا د میرځمن د لوړ پوړو برمته شویو کسانو، او د نوکرانو او بې وزلو مریيانو په سترګو کې سیخ وهل یو عادي دود دی. په ګجرات کې سترواک ته ددوه کلن چوپړ په ترخ کې مې خپل لښکر درلود، مالیات مې راټول کړل، د ځمکوالو ژوند - بڼې ته مې لوړتیا ورکړه او عدالت مې وڅارهٔ. په لاهور او ګجرات کې به یو شمیر خلکو " امریکایي شهزاده" بللم. هم مې پوځي واک او هم مې د ګورنر ملکي صلاحیت درلود او د دوو کلونو په لړ کې مې ښـهٔ وختونه په چړچو تېر کړل.

د رنجیت سینګهـ په دربار کې زما د نالېوالتیا او بېزاریو په منځ کې یوه دا وه چې نوموړي زما د توند آیرلندي خوی او عادت زغم و پېښ نه درلود. یوه ورځ ئـې پر ما د تقلب او چلوټې تور ولګاوهٔ چې پایله ئـې په توندې لفظي شخړې واوښتله. په پای کې رنجیت سینګهـ په مرګ وګواښلم او وئـې ویل چې که ددهٔ له قلمروه په چټکۍ ونـهٔ وځم نو هرومرو به له شوني مرګ سره مخامخ سم. ټول راکړل شوي القاب راڅخه واخیستل شول او راټوله کړې ګرانه شتمني مې ضبط او د ستلج د سیند په هاغه بله غاړه کې چې د اندس د سیند یوه ختیځه څانګه ده د سیکهانو له ځمکې دباندې وایستل سوم. له نېکـه مرغه په کافي اندازې پیسې راسره وې. خپل کمربند مې وپلاټـهٔ او په هر هغـهٔ څـهٔ مې ځان ډاډه کړ چې تر ملا مې تړلې ول، او د خپل آس «فلورا» په سپرلۍ په داسې حال کې چې کونګرې مې «دش» په غېږ کې خوندي نیولی وو د پیښور له لارې مې افغانستان ته د کابل پر لور ودرومل.

**********************

[15] - Captain Claude Wade: د کتاب پـهٔ پای کې ئـې شرحه کې وګورئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونـه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ